د افغانستان بانک

د مالي راپورونو او معاملو د شنني مرکز

د قانون او مقرراتي چارو د رعایتولو مرستیالیت

د ځانګړو غیرمالي حرفو او تشبثونو ارشد مدیریت

نېټه: ۳/ ۶/ ۱۴۴۷

نېټه: ۲۳/ ۹/ ۱۴۰۴

شمېره: ۳۹۲ / ۱۲۳ محرم ☐ عاجل ☐

بسم الله الرحمن الرحیم

**د مالیې وزارت د قدر وړ مقام ته!**

د مسلکي محاسبینو ریاست (CPA) د پام وړ!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

**موضوع:** دې مرکز ته د تفتیشي شرکتونو د راپور ورکولو پروسې د پیل په اړه

د مالي اقداماتو کاري ډلې د سپارښتنو او له پیسو وینځلو سره د مبارزې اصولو او مقرراتو پر بنسټ، ځانګړې غیرمالي حرفې او تشبثونه په ځانګړي ډول تفتیشي شرکتونه دافغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شنني مرکز ته له راپور ورکونکو مراجعو څخه ګڼل کیږي. دا چې د تفتیشي شرکتونو فعالیتونه له پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې له اړخه له لوړ ګواښ سره مخ دي او ددې لپاره چې له یادو سکتورونو څخه ځینې کړې ناوړه ګټه پورته نه کړي، اړینه ده چې یاد سکتورونه د افغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شنني له مرکز سره د لویو نغدو او شکمنو مالي معاملو (STR&LCTR) راپورونه شریک کړي.

له معمول سره سم د یادو سکتورونو مسؤلینو د ثبت، یوزر ورکولو او د ښوونیزو پروګرامونو لړۍ ددې مرکز د مسؤلینو لخوا د مالیې د قدر وړ وزارت د مسلکی محاسبینو ریاست (CPA) په همغږۍ او همکارۍ سره بشپړ شوه.

نو له همدې امله هغه تفتیشي شرکتونه چې د مالیې وزارت د مسلکي محاسبینو د قدر وړ ریاست (CPA) لخوا دې مرکز ته ورپېژندل شوي؛ خبر ورکول کیږي چې د دغه متحد المال د صادریدو له نېټې څخه وروسته دې: (۱) مشتریانو ته د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له هغوی سره د قراردادونو راپور، (۲) د مشتریانو هغه نغدې معاملې چې ارزښت یې د (۲۰۰،۰۰۰) دوه سوه زره افغانۍ یا له دې څخه پورته، یا یې معادل په نورو بهرنیو اسعارو کې وي او د لوړو نغدو معاملو شرطونه یې پوره کړي وي، (۳) د ټولو شکمنو معاملو او فعالیتونو راپور د دریو ورځو په جریان کې له فورم سره سم دافغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شنني له مرکز سره شریک کړي.

د افغانستان بانک د مالي راپورونو او معاملو د شنني مرکز له الله ﷻ له دربار څخه ستاسو د لا بریاوو غوښتنه کوي. **والسلام**

**نور احمد آغا**

**دافغانستان بانک د ټولو رئیس**

۱۴۰۷/۱/۶۲

کاپي: د تفتیشي شرکتونو (Audit Firms) مسؤلینو ته

د افغانستان بانک، د بریکوټ کوڅه، دهمزنګ، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۶۱۵۴ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@fintraca.gov.af ویب پاڼ: www.fintraca.gov.af
د بریښنالیک پته: info@dab.gov.af ویب پاڼه: www.dab.gov.af ټولنیزې شبکې: فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - AFGCentralbank@ / انستاګرام - AFGCentralbank